MACMILLAN CANCER SUPPORT

If you are diagnosed with cancer – a quick guide: Pashto

# کچیرې ستاسو سرطان تشخیص شوي وي – چټکه لارښوونه

دا معلومات د دې په اړه دي چې که چیرې ستاسو سرطان تشخیص شوي وي د څه تمه باید وکړئ، او چیرې مرسته او ملاتړ ترلاسه کړئ.

ټول هغه توري چې د لاندې یې کرښه ایستل شوې ده په پای کې د تورو په لېست کې تشریح شوي دي. د تورو په لېست کې دا هم څرګنده شوې چې په انګلیسی کې به دغه کلمات څنګه وایې.

د سرطان سره تشخیص کېدل ممکن یوه لویه ضربه وي. تاسو به ممکن ډیرې مختلف احساسات ولرئ. د ډیرې خلکو درملنه په کامیابه توګه شوې ده یا توانیدلي دي چې له سرطان سره ډیرې کلونه ژوند وکړي. مختلف خلک او خدمات شتون لري چې کولی شي مرسته درسره وکړي.

که تاسو د دې معلوماتو په اړه څه پوښتنې لرئ، په کوم روغتون کې چې ستاسو درملنه کیږي، هلته له خپل ډاکټر یا نرس څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو همدارنګه کولای شئ د Macmillan د سرطان له ملاتړ سره د **0808 808 00 00** وړیا تلفوني شمېرې له لارې 7 ورځې په اونۍ کې، د سهار له 8 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو پورې اړیکه ونیسئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې تاسو موږ ته زنګ وهئ، په مهربانۍ سره موږ ته ووایاست چې کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

د سرطان په اړه په نورو ژبو کې ډېر معلومات په **macmillan.org.uk/translations** کې شتون لري


## دا معلومات د لاندې مواردو په هکله دي:

- سرطان څه ته وایي؟
- له تشخیص څخه وروسته څه پیښیږي؟
- کچیرې تاسي LGBTQ+ یاست
- د روغتیا او ټولنیزې پاملرنې متخصصین چې تاسو یې لیدلی شئ. درملنه څنګه پلان شوې ده
- د سرطان عمده درملنې
- د خپل روغتیایي ټیم سره خبرې کول
- له سرطان سره تعامل کول
- ستاسو لپاره سمه پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول
- Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي
- د تورو لیست
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- حوالې او مننه

## سرطان څه ته وایي؟

سرطان زموږ د بدن په حجرو کې پیلیږي. حجرې کوچنی ساختماني تختي دي چې د بدن غړي او انساج تشکیلوي. حجرې له بدن څخه سګنالونه ترلاسه کوي، او ورته وایي چې کله وده وکړي او کله سره وویشل شي ترڅو نوې حجرې رامنځ ته کړي. ستاسو بدن په دې ډول وده کوي او رغیږي. دغه حجرې کېدی شي زړې، زیانمني شي یا نور ورته اړتیا پیدا نشي. کله چې داسي څه پېښیږي، حجرې له بدن څخه سېګنال ترلاسه کوي چې کار بند کړي او مړې شي.

ځیني وختونه دغه سېګنالونه سم عمل نه کوي، او حجرې غیر عادي حالت غوره کوي. دغه غیرعادي حجرې ښایي سره وویشل شي او په دې توګه لا ډېرې غیرعادي حجرې رامنځ ته کړي. دغه حجرې کولای شي د تومور په نامه غده رامنځ ته کړي.




ټولو تومورونه سرطان نه دي. هغه تومور چې سرطان نه وي ( سلیم تومور) ښایي وده وکړي، اما نشي کولای د بدن بلې برخې ته انتقال شي. دا ډول تومور معمولاًً که چېرې وده وکړي یوازې ستونزه رامنځ ته کوي او د بدن نږدې غړو باندې فشار راولي.

هغه تومور چې سرطان وي (مضر تومور) کېدی شي په نږدې انساجو کې وده کړو.

ځیني وختونه، د سرطان حجرې له لومړي سرطان څخه بېلیږي او د ویني او لنفاوي سیسټم له لارې د بدن نورو برخو ته خپریږي. د سرطان حجرې چې د بدن په یو بل ځای کې تومور ته اوړي پراخیږي او وده کوي د دوهم سرطان یا میټاسټاسس په نوم یادیږي.

د سرطان ځیني ډولونه د ویني له حجرو څخه پیلیږي. غیر عادي حجري کولی شي په وینه، او ځیني وختونه د هډوکي په مغز کي رامنځته کیږي. د هډوکي مغز هلته شتون لري چیرې چې حجرې جوړیږي. د سرطان دې ډولونو ته ځیني وخت د ویني سرطان ویل کیږي.

## له تشخیص څخه وروسته څه پیښیږي؟

ستاسو روغتیایي ټیم باید له تاسو سره ستاسو د درملني د انتخابونو په اړه او د هر یو ملاتړ په اړه چې تاسو ورته اړتیا لرئ خبرې وکړي. هغوی به تاسو ووایي چې ستاسو په درملنه کې به څه شامل وي او څه وخت به شروع کیدی شي. تاسو به ممکن د نورو ټیسټونو کولو یا سکین ته اړتیا ولرئ ترڅو د سرطان په اړه لا نور معلومات وموندل شي.

## کچیرې تاسې LGBTQ+ یاست

په دې پاڼه کې معلومات د هر هغه چا لپاره لیکل شوي دي چې له سرطان څخه اغیزمن شوی دی. که تاسو LGBTQ+ یاست، تاسو ممکن اضافي پوښتنې ولرئ.

که چیرې ستاسو د روغتیا پاملرنې ټیم ستاسو جنسي تمایل یا جنسیت پیژني، ځینې وختونه دا کولی شي له تاسو سره د ښه ملاتړ احساس کولو کې مرسته وکړي. او دا ممکن ستاسو له روغتیا پاملرنې ټیم سره مرسته وکړي چې تاسو او تاسو ته نږدې خلکو ته سم معلومات او ملاتړ درکړي.

که تاسو نرښځی یا غیر بائنری یاست، ستاسو د بدن په اړه د روغتیا مسلکي سره خبرې کول ممکن ستونزمن وي. ځینې وختونه، ټیسټونه یا درملنه کیدای شي د بدن هغه برخې راونغاړي چې تاسو یې په اړه د خبرو کولو په اړه خفه کیږئ. که چیرې تاسو د هورمونونو یا د جنسیت تصدیق کوونکي جراحي درلوده، تاسو ممکن پوښتنې هم ولرئ.

هڅه وکړئ هغه څوک له ځانه سره د ملاقات لپاره بوځئ چې تاسو پرې باور لرئ. دوی کولی شي غوږ ونیسي او له تاسو سره د هغه څه سره په تعامل کولو کې مرسته وکړي چې پیښیږي.

## د روغتیا او ټولنیزې پاملرنې متخصصین چې تاسو یې لیدلی شئ

کله چې تاسو سرطان لرئ، تاسو ممکن د ډیری مختلفو روغتیا او ټولنیزې پاملرنې متخصصینو سره وګورئ.

**ستاسو اصلي اړیکه**

تاسو باید خپل د روغتیا پاملرنې ټیم کې د تماس اصلي کس ولرئ. دوی ممکن د کلیدي کارمند یا د اړیکي کارکونکي په نوم یاد شي. تاسو ته به د دوی نوم او د اړیکو نیولو تفصیلات درکړل شي. که تاسو پوښتنې لرئ یا مشورې ته اړتیا لرئ، دوی کولی شي مرسته وکړي.

**ستاسو په ځایي سیمه کې**

هلته مسلکي کسان شتون لري چې کولی شي ستاسو په ساتنه کې مرسته وکړي کله چې تاسو په کور کې یاست. دوی به ستاسو له روغتون ټیم سره په اړیکه کې وي. دوی عبارت دي له:

- **عام ډاکټر** – کله چې تاسي په کور کې یاست ستاسو عام ډاکټر ستاسو خیال ساتي. دوی کولی شي له تاسو سره د علاماتو او جانبي عوارضو په اداره کولو کې مرسته وکړي او د اړتیا په صورت کې تاسو ته د متخصصینو د لیدو لپاره ملاقات تنظیم کړي. دوی کولی شي په کور کې له تاسو سره د مرستې لپاره خدمتونه تنظیم کړي او ستاسو سره د درملنې د هرې پریکړې په اړه خبرې وکړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ ترڅو پریکړه او اقدام پرې وکړئ.
- **د ټولنې او ولسوالی نرساني** - دا نرساني کولی شي تاسو په کور کې وګوري او تاسو او هر هغه چا ته چې ستاسو پالنه کوي پاملرنه او ملاتړ یې وکړي. ستاسو عام ډاکټر کولی شي له دوی سره ستاسو لپاره اړیکه ونیسي.
- **د روزنې نرس**-د عامې ډاکترۍ ځینې داسې فعالیتونه لري چې نرساني پکې وي څوک چې د عامې ډاکترۍ سره کار هم کوي. د روزنې نرس کولی شي تاسو ته د شیانو په تشریح کولو کې مرسته وکړي او ممکن داسې شیان ترسره کړي لکه د وینې معاینه کول یا په زخمونو ټوټې اچول.

**د روغتون ټیم (MDT)**
په روغتون کې، د یو ځو فعالیتونو ټیم (MDT) به ستاسو درملنه او پاملرنه اداره کړي. دا د روغتیا او ټولنیزې پاملرنې متخصصینو یو ګروپ دی. په دې ګروپ کې ممکن له دې خلکو څخه ځینې یا ټول شامل وي، چې عبارت دي له:

- **جراح** - هغه ډاکټر چې عملیات کوي.
- **آنکولوژیست** - هغه ډاکټر چې د سرطان درملنه کوي.
- **هیماتولوژیسټ** - هغه ډاکټر چې د وینې د ستونزو درملنه کوي.
- **رادیولوژیست** - هغه ډاکټر چې د ایکس رې او سکینونو لیدلو لپاره روزل شوی وي.
- **کلینیکي مختصص نرس (CNS)** – هغه نرس چې د درملنې پرمهال معلومات او ملاتړ ورکوي.
- **د معالجې پاملرنې ډاکټر** - یو ډاکټر چې د نښو کنټرول کې مرسته کوي.

کیدای شي په MDT کې نور خلک هم وي چې د سرطان په نوعیت پورې اړه لري چې تاسو ورته ورشئ.

**ټولنیز خدمتونه او رضاکاره سازمانونه**
که تاسو په کور کې مرستې ته اړتیا لرئ، د بیلګې په توګه د مینځلو، جامو کولو، پاکولو یا پیرودلو په اړه، د خپل عام ډاکټر یا د تماس اصلي کس سره خبرې وکړئ. دوی ممکن تاسو یو ټولنیز کارکوونکي ته راجع کړي. یو ټولنیز کارکوونکی کولی شي د عملي او مالي ستونزو په حل کولو کې مرسته وکړي. ستاسو په سیمه کې ممکن نور سازمانونه هم وي چې مرسته کولی شي.

## درملنه څه ډول پلان شوې ده

تاسو د روغتیا پاملرنې ټیم، چې ستاسو د سرطان په ډول کې ماهرین دي، ستاسو د درملنې پلان جوړ کړي. دوی به د لاندې مواردو په اړه فکر وکړي:

- د سرطان ډول
- د سرطان اندازه او ایا چې دا خپور شوی دی
- ستاسو عمومي روغتیا
- د درملنې ملي لارښوونې
- ستاسو غوره توبونه او ستاسو لپاره څه مهم دي.

مخکې لدې چې تاسو کومه درملنه وکړئ ډاکټران ستاسو اجازې (رضایت) ته اړتیا لري.

ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د درملنې په انتخابونو پوهېږئ. ستاسو ډاکټر یا نرس باید د درملنې په اړه هرې پوښتنې ته چې تاسو یې لرئ ځواب ووایی. د سرطان درملنه کیدی شي پیچلې وي نو تاسو اړتیا لرئ له یو ځل څخه ډیرې پوښتنې هم وکړئ. د یو خپلوان یا ملګري بیول ممکن ستاسو سره د ملاقات په وخت کې مرسته وکړي. دوی کولی شي له تاسو سره د هغه څه په یادولو کې مرسته وکړي چې ویل شوي دي. د پوښتنو د لیست جوړول ممکنه مرسته وکړي چې تاسو غواړئ په اړه یې پوښتنه وکړئ او د خپل ملاقات سره یې له ځانه سره یوسئ. تاسو کولی شئ ځوابونه ولیکئ ترڅو یې په یاد ولرئ.

**د درملنې په اړه پریکړې کول**

کیدای شي له یوې څخه زیاته ممکنه درملنه شتون ولري. ستاسو ډاکټر ممکن تاسو ته یو انتخاب وړاندې کړي. دوی به تاسو ته ټول هغه معلومات درکړي چې تاسو اړتیا لرئ په اړه یې پریکړه وکړئ. مخکې لدې چې پریکړه وکړئ چې ستاسو لپاره څه سم دي، دا مهمه ده چې پوه شئ چې:

- په هره درملنه کې څه شامل دي:
- ممکن جانبي عوارض
- د هرې درملنې ګټې او زیانونه.

ستاسو د روغتیا پاملرنې ټیم به تاسو ته د انتخاب کولو لپاره وخت درکړي. دوی کولی شي له تاسو سره په پریکړه کې مرسته وکړي.

## د سرطان عمده درملنې

د درملنې موخه دا ده چې د سرطان علاج وشي، یا یې کنټرول کړي او علامات یې لرې کړي.

د درملنې ډول چې تاسو یې کوئ په سرطان او ستاسو وضعیت پورې اړه لري. تاسو به ممکن له یو څخه زیات علاج ولرئ. د سرطان په علاج کې کیدی شي لاندې موارد شامل وي چې عبارت دي له:

- **جراحي** - سرطان په عملیات کې لرې کیږي
- **راډیوتراپي** - د لوړې انرژۍ ایکس رې د سرطان حجرو د ویجاړولو لپاره کارول کیږي
- **کیموتراپي** - هغه درمل چې د سرطان حجرو ویجاړولو لپاره کارول کیږي
- **هورمونیز علاج** - دا درمل ستاسو په بدن کې د هورمونونو فعالیت بدلوي، کوم چې کولی شي د سرطان وده ورو یا ودروي.
- **هدفي علاجونه** - دا درمل په هغو لاروچارو باندې اغیزه کوي چې د سرطان حجرو ته وده ورکوي.

**کلینیکي آزمویني ټیستونه**
کلینیکي آزمویني ټیستونه د طبي څیړنې مطالعې دي چې خلکو پکې ګډون کړی وو. دا نوي علاجونه ټیسټ کوي ترڅو وګوري چې ایا دا د اوسنې علاج په پرتله لا ډیر اغیزمن دي. په آزمویني ټیسټ کې کیدای شي د نوي درملو ټیسټ یا د علاج د نویو طریقو ټیسټ کول شامل وي.

که چیرې کوم ټیستونه شتون ولري چې تاسو پکې برخه اخیستلی شئ، ستاسو ډاکټر به له تاسو سره د هغې په اړه خبرې وکړي. تاسو کولی شئ په آزمویني ټیسټ کې برخه وانه اخلئ.

**جانبی عوارض**
د سرطان درملنه کیدای شي د جانبي عوارضو لامل شي. دا ډیری وختونه راکم او اداره کیدی شي. ستاسو د روغتیا پاملرنې ټیم به تاسو ته مشوره درکړي. ډیری جانبي عوارض په تدریجي ډول د علاج پای ته رسیدو وروسته له مینځه ځي.

## د خپل روغتیايي ټیم سره خبرې کول

د سرطان درلودل کیدای شي اندیښمن او مغشوش وخت وي. د خپل روغتیا پاملرنې ټیم سره خبرې کولی شي مرسته وکړي. ډیری خلک د ښه کیدو او د ډیر کنټرول احساس کوي کله چې پوهیږي چې وهه شي په ښه کیدو روان دی او که خرابیدو.

خلک ډیری وخت احساس کوي چې د روغتون کارمندان د دوی پوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره وخت نلري. مګر دا ستاسو لپاره مهمه ده چې پوه شئ چې څه پیښیږي او د سرطان او علاج په تاسو څنګه اغیزه کولی شي. کارمندان هلته شتون لري ترڅو درسره مرسته وکړي. هغوی باید ستاسو د پوښتنو لپاره وخت پیدا کړي. که تاسو په انګلیسي سم نه پوهیږئ یا پرې خبرې نشئ کولی، روغتون به ستاسو لپاره یو ژباړونکی پیدا کړي.

تاسو به ممکن د ځینو پوښتنو په مطرح کولو کې ستونزه ولرئ، په خاصه توګه کچیرې پوښتنې د شخصي مسایلو په اړه وي. مګر ستاسو د روغتیا ټیم هلته شتون لري ترڅو درسره مرسته وکړي او هغوی دغو پوښتنو ځوابولو سره عادي دي.

دا مهمه ده، چې تاسو په هغه څه پوه شئ چې څه ویل کیږي. کچیرې تاسو نه پوهیږئ، له ډاکټر یا نرس څخه پوښتنه وکړي چې بیا یې درته واضح کړي.

**هغه پوښتنې چې له خپل روغتیاپاملرنې له ټیم څخه یې وپوښتئ**
دلته ځینې پوښتنې شته دی چې ممکن تاسو یې له خپل روغتیاپاملرنې ټیم څخه وپوښتئ. کیدای شي ټولې پوښتنې ستاسو پورې اړه ونلري

- زما تشخیص څه معنی لري
- سرطان څومره پرمخ تللی دی؟
- زما په علاج کې څه شامل دي؟
- د هر علاج ګټې، خطرونه او جانبي عوارض کوم دي؟
- علاج زما په ورځني ژوند باندې څنګه اغیزه کوي؟
- علاج به څومره موثر وي؟
- زه له چا سره خبرې کولی شم چې زه څنګه احساس کوم؟
- زه به له چا سره خبرې وکړم کچیرې زه د پوښتنو په اړه وروسته فکر وکړم؟
- زه دیني یا روحي هیلې لرم - ایا دا به ترسره شي؟

## له سرطان سره تعامل کول

**ستاسو احساسات**
دا یوه عامه خبره ده چې ډېر مختلف احساسات ولري کله چې درته وویل شي چې سرطان لري. تاسو به ممکن د ضربې، ویرې، تشویش، غوصې او خپګان احساس وکړئ د احساس کولو لپاره هیڅ کومه سمه یا غلطه لاره نشته. د دې په اړه خبرې کول چې تاسو څنګه احساس کوئ ډېری وختونه مرسته کولی شي.

مرسته چیرته ترلاسه کولی شئ:

- **Macmillan** – وګورئ **Macmillan څنګه له تاسو سره مرسته کولی شي**لاندې برخه د هغو ټولو طریقو لپاره ده چې مونږ کولی شو مرسته وکړو.

- **مشاورین** – مشاور له تاسو سره مرسته کولی چې د یو څه په اړه خبرې وکړئ او هغه لارې چارې ومومئ ترڅو مو له خپلو احساساتو سره پداسې یو ځای کې تعامل وکړئ چیرې چې تاسو د خوندیتوب احساس کوئ. د خپل د سرطان ډاکټر یا عام ډاکتر سره خبرې وکړئ که غواړئ مشوره ترلاسه کړئ.

- **د ملاتړ ګروپونه** – له نورو کسانو سره چې سرطان ولري خبرې کول مرسته کولی شي. له خپل ډاکتر یا نرس څخه په خپله ساحه کې د ګروپونو په اړه پوښتنه وکړئ یا له **macmillan.org.uk/supportgroups څخه لیدنه وکړئ**

**پیسې، کار او سفر**
که سرطان مو په دنده یا مالیاتو اغیزه کړې وي ډیری لارې شتون لري چې Macmillan کولی شي مرسته وکړي. موږ ته په **0808 808 00 00 زنګ ووهئ** ترڅو د دې هرې مسلې په اړه وغږیږو.

- موږ کولی شو تاسو ته د هغو ګټو په اړه ووایو چې تاسو یې مستحق یاست او له تاسو سره مرسته وکړو چې اسناد ورته جمع کړئ.

- موږ کولی شو له تاسو سره د ګروي، تقاعد، بیمې، پور اخیستلو او سپما په اړه پوښتنو کولو کې مرسته وکړو.

- موږ بلاعوضه مرستې برابروو - تادیات چې تاسو سره د سرطان له امله رامینځته شوي اضافي لګښتونو کې مرسته وکړي.

- که سرطان ستاسو په کار اغیزه کړې وي موږ کولی شو تاسو ته معلومات او مشوره درکړو.

- که تاسو سرطان لرئ موږ کولی شو تاسو ته د سفر په اړه معلومات درکړو.

**فزیکي بدلونونه**
ځینې وختونه، د سرطان یا سرطان درملنه کولی شي ستاسو د ظاهري بدن شکل تغیر وکړي یا کار کوي اغیزه وکړي. ستاسو ډاکټر یا نرس کولی شي تاسو ته پدې اړه مشوره درکړي او څه مرسته درسره کولی شي. موږ کولی شو تاسو ته معلومات درکړو – موږ ته په **0808 808 00 00 زنګ ووهئ**.

**تکمیلي درملنې**
دا نورې درملنې دي چې کیدای شي له تاسو سره په ښه احساس کولو کې مرسته وکړي، لکه تامل یا آرام. دا درمل د سرطان درملنه نه کوي. تاسو باید تل خپل د سرطان ډاکټر ته د نورو درملنو په اړه وواياست چې تاسو یې کارول غواړئ.

**دین او روحانیت**
د سرطان د تشخیص وروسته، ځیني خلک د مذهبي عقیدې یا روحاني احساساتو په اړه ډیر عامه پوهه ترلاسه کوي. هغه خلک چې قوي مذهبي عقیده لري ډیری وختونه دا ډیر ګټور مومي. نور خلک ممکن خپله عقیده تر پوښتنې لاندې راولي.

ځیني خلک په لمانځه یا تامل کولو کې راحت ترلاسه کوي. ډیری خلک دا ګټور بولي چې پوه شي چې نور خلک د دوی لپاره دعا کوي.

تاسو کولی شئ د یو روحاني، وزیر، پادري، ربي یا بل مذهبي مشر سره خبرې وکړئ حتی که تاسو د هغه څه په اړه ډاډه نه یاست چې تاسو پرې عقیده لرئ. روحاني او مذهبي مشران د مرستې لپاره کارول کیږي، او تاسو ممکن د ذهن سکون ومومئ.

**د کورنۍ، ملګرو او پالونکو**
لپاره ملاتړ چې تاسو ته نږدې خلک هم معلوماتو یا ملاتړ ته اړتیا لري. زموږ د سرطان ملاتړ متخصصین دلته د هر هغه چا سره مرسته کوي چې په سرطان اخته شوي، ستاسو د خپلوانو او ملګرو په ګډون. دوی کولی موږ ته په **00808 808 00 00 زنګ ووهئ.**

پالونکی هغه څوک دی چې په سرطان اخته خپلوان یا ملګري ته بې معاشه مرسته ورکوي چې له دې مرستې پرته بله چاره نلري. دوی به ممکن د شخصي پاملرنې سره مرسته وکړي، عاطفي ملاتړ ورکړي یا د کور په کارونو کې مرسته وکړي. که څوک ستاسو په پالنه کې مرسته کوي، نو دا مهمه ده چې دوی هم ملاتړ ترلاسه کړي. د دوی لپاره ډیری مرستې شتون لري.
دوی باید په دې اړه ستاسو له ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړي یا Macmillan ته په
**0808 808 00 00 تلیفون وکړي.**

## ستاسو لپاره سمه پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه خبرې نه کوئ، تاسو ښایي اندیښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او مراقبت باندې اغیز وکړي. اما ستاسو د روغتیاپالنې ټیم باید تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهیږو چې ځیني وختونه خلک ښایي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنۍ لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښایي د پیسو او د ترانسپورټي لګښتونو په اړه اندیښنه ولرئ. دغه ټول شیان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

اما مرسته شتون لري. زموږ د مرستې وړیا تلفوني کرښه **0808 808 00 00** کولای شي ستاسو د وضعیت په هکله، ستاسو په ژبه، تاسو ته لارښوونې وړاندې کړي. تاسو کولای شئ له نرسانو، مالي لارښوونکو، د رفاهي حقونو له مشاورینو او د کار د ملاتړ له مشاورینو سره خبرې وکړئ.

موږ همدارنګه په سرطان باندې د اخته کسانو لپاره د Macmillan بلاعوضه مرستې وړاندې کوو. دغه یو ځل تادیات دي چې د روغتن د پارکېنګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت یا د ګرمولو د بېل په شان شیانو لپاره استفاده ځنې کیږي.

## Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي

په Macmillan کې، موږ پوهیږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره یو.

**د Macmillan د ملاتړ مرکز تلفوني کرښه**

موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولای شئ له موږ سره په خپله ژبه باندې خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله ووایاست چې تاسو خبرې پرې کوئ. موږ کولای شو د طبي پوښتو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرسته په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونیسو. د تلفون وړیا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو د شپې تر 8 بجو پورې پرانیستې ده. موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ

**ویب چېټ**

تاسو کولای شئ موږ ته د ویب چېټ پیغام واستوئ او موږ ته ووایاست چې ژباړن ته اړتیا لرئ. موږ ته په انګلیسي کې د هغې ژبې په هکله ووایاست چې اړتیا ورته لرئ، او زموږ کس به له تاسو سره اړیکه ونیسي. په ' Chat to us' بټنه باندې کلیک وکړئ چې د ویب پاڼې په ټولو پاڼو باندې څرګندیږي. یا **macmillan.org.uk/talktous** ته لاړ شئ

**د Macmillan ویب پاڼه**

زموږ ویب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. همدارنګه په نورو ژبو باندې هم په **macmillan.org.uk/translations** کې معلومات شتون لري

موږ همدارنګه کولای شو یوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** باندې برېښنالیک واستوئ.

**د معلوماتو مرکز**

زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له یو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په **macmillan.org.uk/informationcentres** کې ومومئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**

د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. په خپله سیمه کې د ملاتړ د ګروپونو په هکله په **macmillan.org.uk/supportgroups** کې معلومات ولولئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د Macmillan آنلاین ټولنه**

تاسو همدارنګه کولای شئ په آنلاین ډول له نورو هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د **macmillan.org.uk/community** له لارې خبرې وکړئ چې تاسو کولای شئ د شپې یا ورځې په هر وخت کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

# د تورو لیست

| کلمه | په انګلیسي | په انګلیسي کې څنګه ویل کېږي | مانا |
|---|---|---|---|
| تشخیص | Diagnosis | ډایګنوسز | تشخیص هغه وخت رامنځته کیږی کله چې ستاسو ډاکتر دا پیدا کړي چې کوم مرض یا مشکل ستاسو د مرض د علاماتو لامل کیږي. |
| تشخیص شوی | Diagnosed | ډایګنوزډ | که تاسو له سرطان سره تشخیص شوي یاست، دغه دا معنی لري چې ستاسو ډاکټر دا موندلې ده چې تاسو سرطان لرئ. |
| حجرې | Cells | سیلز | د جوړولو کوچنۍ تختې چې زموږ د بدن غړي او انساج تشکیلوي. |
| روغتیاپاملرنې ټیم | Healthcare team | هېلت کیر ټیم | د ډاکترانو، نرسانو او نورو متخصیصینو ټیم کوم چې به ستاسو پالنه کوي. |
| ګټې | Benefits | بېنیفټس | پیسې چې تاسو ته د حکومت لخوا درکړل شوي دي د دې لپاره دي چې ستاسو د لګښتونو سره مرسته وکړي. |
| کلیدي کاریګر | Key worker | کي ورکر | دا کس ستاسو د اړیکې نیولو لپاره اصلي شخص دی. تاسو باید د هغه د اړیکې جزیات ولرئ. هغوی کولی شي ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایي او درته ووایي چې څوک کولی شي له تاسو سره په مختلفو شیانو کې مرسته وکړي. |
| لمفاټیک سیستم | Lymphatic system | لمفېټک سسټم | په ټول بدن کې د پیپونو او غدو یوه شبکه دا د معافیت سیستم یوه برخه ده. دا سیستم له امراضو سره مبارزه کوي او د نسج او ارګونونو څخه بهیدونکي مایعات وچوي. |
| متاستاز د مرض د پراخیدو میکروب | Metastasis | میټاسټه سز | دوهم تومور چې د هغه ځای څخه خپور شوی وي چیرې چې په بدن کې د اول نه سرطان شروع شوی وي. |
| مهربان | Benign | بیناین | په بدن کې یوه غده چې سرطاني نه ده او په بدن کې بل ځای ته نه انتقالیږي. |
| مهلک | Malignant | مېلیګننټ | په بدن کې یوه غده ده چې سرطاني ده او ټول بدن ته پراخیدلی شي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| تسکيني پاملرنه | Palliative care | پيليه ټيو کير | هغه پاملرنه چې يو چا ته ورکړل شوې وي چې سرطان لري کوم چې روغيدی نشي. پدې کې ممکن د سرطان راکمولو يا د علاماتو د راکمولو درملنه شامله وي او يو څوک ډير راحته کړي. |
| جانبي عوارض | Side effects | سايډ ايفيکټس | د سرطان د درملني غيرمطلوبې اغېزې د بېلګې په توګه، د وېښتو تويېدل، د ناروغتيا يا ستړيا احساس لرل. ډېری جانبي عوارض د درملنې له پای ته رسېدو وروسته له منځه ځي. |
| تومور | Tumour | ټيومر | تومور د حجرو يو ګروپ دی چې په غير عادي توګه پراخيږي. غيرعادي حجرې څوچنده کيږي او غده تشکيلوي. |

## ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ ستاسو په ژبه کې د دې موضوعاتو په اړه معلومات لرو:

| **د سرطان ډولونه** | **له سرطان سره تعامل کول** |
|---|---|
| • د سيني سرطان<br>• د لويو کولمو سرطان<br>• د سږي سرطان<br>• د پروستات سرطان<br>**درملني**<br>• کيموتراپي<br>• راديوتراپي<br>• جراحي عمليات | • سرطان او کرونا وايروس<br>• د مزاياوو غوښتنه کله چې سرطان لرئ<br>• د خوړلو ستونزې او سرطان<br>• د ژوند پای<br>• سالم خوراک کول<br>• د مصارفو مرسته کله چې سرطان لرئ<br>• که ستاسو سرطان تشخيص شوی وی - لنډه لارښوونه<br>• سپيسبس او سرطان<br>• د سرطان د درملني جانبي عوارض<br>• ستړيا (ستوماني) او سرطان |

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## حوالې او مننه

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختيا د ټيم په واسطه ليکل او تحرير شوي دي. دا د ژباړونکي شرکت لخوا ژباړل شوې ده.

دا معلومات چې راجمع شوي دي د Macmillan د کتابګي **د لاربښوونو پر اساس دي. د سرطان لاربښود**. موږ کولای شو تاسو ته يوه کاپي واستوو، اما بشپړ کتابګوټی يوازې په انګليسي ژبه شتون لري.

دا معلومات د اړونده متخصيصينو لخوا بياکتل شوي دي او زموږ د طبي تحرير رئيس لخوا تاييد شوي دي، پروفيسور تيم آويسون، طبي مشاور سرطان پوه او د Macmillan طبي تحرير رئيس.

له هغو خلکو څخه ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي او د دغو معلوماتو بياکتنه يې کړې ده.

د هغو سريچنو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې موږ يې زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو په اساس دي. کارو، په مهربانۍ سره له موږ سره **د** cancerinformationteam@macmillan.org.uk له لارې اړيکه ونيسئ

| |
|---|
| محتوى بيا کتل شوې: 2021 |
| راتلونکي پلان شوي بياکتنه: 2024 |

MAC15916_Pashto

موږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ يې چمتو کوو دقيق او وروستي معلومات دي اما دا بايد ستاسو د وضعيت سره سم د متخصصي مسلکي مشورې د بديل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځايه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خپرونه کې د هر هغه معلوماتو د کارولو يا د دريمې ډلې د معلوماتو يا د وېب پاڼې د شاملو معلومات يا راجع شويو معلوماتو مسؤليت نه مني.

د Macmillan سرطان ملاتړ2022، په انګلستان او ويلز (261017)، سکاټلينډ (SC039907) او آئل آف مين (604) کې ثبت شوې خيريه موسسه. همداراز په شمالی ايرلنډ کې فعاليت کوي. د ضمانت په واسطه محدوده شوې کمپني، چې په انګلستان او ويلز کې په 2400969 شمېره ثبت شوې ده. آئېلز آف من د شرکت نمبر 4694F. ثبت شوی دفتر: 89 البيرټ ايمبانکمينټ، لندن SE1 7UQ

Trusted Information Creator
Patient Information Forum

If you are diagnosed with cancer – a quick guide: English

# If you are diagnosed with cancer – a quick guide

This information is about what to expect when you find out you have cancer, and where to get help and support.

Any words that are underlined are explained in the word list at the end. The word list also includes how to say the words in English.

Being diagnosed with cancer can be a huge shock. You may be feeling lots of different emotions. Many people are treated successfully or able to live with cancer for many years. There are lots of people and services that can support you.

If you have any questions about this information, ask your doctor or nurse at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more cancer information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

## This information is about:


- What is cancer?
- What happens after diagnosis?
- If you are LGBTQ+
- Health and social care professionals you might meetHow treatment is planned
- The main cancer treatments
- Talking to your healthcare team
- Coping with cancer
- Getting the right care and support for you
- How Macmillan can help you
- Word list
- More information in your language
- References and thanks

## What is cancer?


Cancer starts in the cells in our body. Cells are tiny building blocks that make up the body's organs and tissues. Cells receive signals from the body, telling them when to grow and when to divide to make new cells. This is how our bodies grow and heal. These cells can become old, damaged or no longer needed. When this happens, the cell gets a signal from the body to stop working and die.

Sometimes these signals can go wrong, and the cell becomes abnormal. The abnormal cell may keep dividing to make more and more abnormal cells. These can form a lump, called a tumour.

**Normal cells**



**Cells forming a tumour**



Not all tumours are cancer. A tumour that is not cancer (a benign tumour) may grow, but it cannot spread to anywhere else in the body. It usually only causes problems if it grows and presses on nearby organs.

A tumour that is cancer (a malignant tumour) can grow into nearby tissue.

Cancer cells sometimes break away from the first cancer and travel through the blood or lymphatic system to other parts of the body. Cancer cells that spread and develop into a tumour somewhere else in the body are called a secondary cancer or a metastasis.

Some types of cancer start from blood cells. Abnormal cells can build up in the blood, and sometimes the bone marrow. The bone marrow is where blood cells are made. These types of cancer are sometimes called blood cancers.

## What happens after diagnosis?

Your healthcare team should talk to you about your treatment options and about any support you need. They will tell you what your treatment will involve and when it can start. You may need to have some more tests or scans to find out more about the cancer.

## If you are LGBTQ+

The information on this page is written for everyone affected by cancer. If you are LGBTQ+, you may have additional questions.

Sometimes it can help you feel better supported if your healthcare team know your sexual orientation or gender. And it may help your healthcare team give the right information and support to you and the people closest to you.

If you are trans (transgender) or non-binary, talking to a health professional about your body may be difficult. Sometimes, tests or treatment may involve parts of the body you find upsetting to talk about. You may also have questions if you take hormones or have had gender-affirming surgeries.

Try to take someone you trust to your appointments. They can listen and help you cope with what is happening.

## Health and social care professionals you might meet

When you have cancer, you may meet lots of different health and social care professionals.

**Your main contact**
You should have a main contact person in your healthcare team. They may be called a key worker or link worker. You will be given their name and contact details. If you have questions or need advice, they can help.

**In your local area**
There are professionals who can help look after you while you are at home. They will be in contact with your hospital team. They include:

- **GP** – Your GP looks after your health while you are at home. They can help you manage symptoms and side effects and arrange for you to see specialists if needed. They can arrange services to help you at home and talk to you about any treatment decisions you need to make.

- **Community and district nurses** – These nurses can visit you at home and give care and support to you and anyone looking after you. Your GP can contact them for you.

- **Practice nurse** – Some GP practices have nurses who work alongside the GP. A practice nurse can help explain things to you and might do things like take blood tests or put dressings on wounds.

**Hospital team (MDT)**
At hospital, a multidisciplinary team (MDT) will manage your treatment and care. This is a group of health and social care professionals. The group might include some or all of these people:

- **Surgeon** – a doctor who does operations.
- **Oncologist** – a doctor who treats cancer.
- **Haematologist** – a doctor who treats blood problems.
- **Radiologist** – a doctor who is trained to look at x-rays and scans.
- **Clinical nurse specialist (CNS)** – a nurse who gives information and support during treatment.
- **Palliative care doctor** – a doctor who helps with symptom control.

There may be other people in the MDT depending on the type of cancer you have.

**Social services and voluntary organisations**
If you need help at home, for example with washing, dressing, cleaning or shopping, speak to your GP or main contact. They may refer you to a social worker. A social worker can help with practical and financial problems. There may also be other organisations in your area that could help.

## How treatment is planned

Your healthcare team, who are experts in your type of cancer, will plan your treatment. They will think about:

- the type of cancer
- the size of the cancer and whether it has spread
- your general health
- national treatment guidelines
- your preferences and what is important to you.

Doctors need your permission (consent) before you have any treatment.

Make sure you understand the treatment options. Your doctor or nurse should answer any questions you have about the treatment. Cancer treatment can be complicated so you may need to ask questions more than once. It might help to take a relative or friend to appointments with you. They can help you remember what was said. It might also help to make a list of questions that you want to ask and take it to your appointment. You can write down the answers so you remember them.

### Making decisions about treatment

There might be more than one possible treatment. Your doctor may offer you a choice. They will give you all the information you need to make your decision. Before you decide what is right for you, it is important to understand:

- what each treatment involves
- the possible side effects
- the benefits and disadvantages of each treatment.

Your healthcare team will give you time to choose. They can also help you with the decision.

## The main cancer treatments

The aim of treatment is to cure the cancer, or control it and relieve its symptoms.

The type of treatment you have will depend on the cancer and your situation. You may have more than one treatment. Cancer treatments can include:

- **surgery** – the cancer is removed in an operation
- **radiotherapy** – high-energy x-rays are used to destroy cancer cells
- **chemotherapy** – drugs are used to destroy cancer cells
- **hormonal therapies** – these drugs change the activity of hormones in your body, which can slow down or stop the cancer from growing.
- **targeted therapies** – these drugs interfere with the way cancer cells grow.

### Clinical trials

Clinical trials are medical research studies involving people.. They test new treatments to see if they are more effective than current treatments. A trial might involve testing a new drug or testing a new way of giving treatment.

If there are any trials that you can take part in, your doctor will talk to you about them. You can choose not to take part in a trial.

**Side effects**
Cancer treatments can cause side effects. These can often be reduced and managed. Your healthcare team will give you advice. Most side effects gradually go away after treatment finishes.

## Talking to your healthcare team

Having cancer can be a worrying and confusing time. Talking to your healthcare team can help. Many people feel better and more in control when they know what is happening to them and why.

People often feel that hospital staff are too busy to answer their questions. But it is important for you to understand what is happening and how the cancer and its treatment might affect you. The staff are there to help you. They should make time for your questions. If you do not understand or speak English well, the hospital can arrange an interpreter for you.

You might find some questions difficult to ask, especially if they are about personal issues. But your healthcare team are there to help and they are used to answering these questions.

It is important that you understand what you are told. If you do not understand, ask the doctor or nurse to explain again.

**Questions to ask your healthcare team**
Here are some questions you may want to ask your healthcare team. They may not all be relevant for you.

- What does my diagnosis mean?
- How advanced is the cancer?
- What will my treatment involve?
- What are the benefits, risks and side effects of each treatment?
- How will the treatment affect my daily life?
- How effective will treatment be?
- Who can I talk to about how I am feeling?
- Who can I speak to if I think of questions later?
- I have religious or spiritual wishes – will these be met?

## Coping with cancer

### Your emotions

It is common to have many different emotions when you are told you have cancer. You may feel shocked, scared, worried, angry or depressed. There is no right or wrong way to feel. Talking about how you feel can often help.

Where to get support:

- **Macmillan** – See the **How Macmillan can help you** section below for all the ways we can help.
- **Counsellors** – A counsellor can help you talk about and find ways to deal with your feelings in a place where you feel safe. Ask your cancer doctor or GP if you would like counselling.
- **Support groups** – Talking to other people who have cancer may help. Ask your doctor or nurse about groups in your area, or visit **macmillan.org.uk/supportgroups**

### Money, work and travel

There are many ways Macmillan can help if cancer has affected your job or finances. Call us on **0808 808 00 00** to talk about any of these issues.

- We can tell you about benefits you might be entitled to and help you apply for them.
- We can help you with questions about mortgages, pensions, insurance, borrowing and savings.
- We provide grants – payments to help you cope with extra costs caused by cancer.
- We can give you information and advice if cancer has affected your work.
- We can give you information about travelling if you have cancer.

### Physical changes

Sometimes, cancer or cancer treatments can affect the way your body looks or works. Your doctor or nurse can give you advice about this and what can help. We can also give you information – call us on **0808 808 00 00**.

### Complementary therapies

These are other therapies that may help you feel better, such as meditation or relaxation. These therapies do not treat cancer. You should always tell your cancer doctor about any other therapies you want to use.

**Religion and spirituality**
After a cancer diagnosis, some people become more aware of religious beliefs or spiritual feelings. People with a strong religious faith often find this very helpful. Other people may question their faith.

Some people find comfort in prayer or meditation. Many people find it helpful knowing that other people are praying for them.

You can talk to a chaplain, minister, priest, rabbi or other religious leader even if you are not sure about what you believe. Spiritual and religious leaders are used to helping, and you may find peace of mind.

**Support for family, friends and carers**
People close to you may also need information or support. Our cancer support specialists are here to help everyone affected by cancer, including your relatives and friends. They can call us on **0808 808 00 00**.

A carer is someone who gives unpaid support to a relative or friend with cancer who could not manage without this help. They might help with personal care, give emotional support or help with housework. If someone is helping to look after you, it is important they get support too. There is lots of help available for them.
They should talk to your doctor or nurse about this or call Macmillan on **0808 808 00 00**.

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may face extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family it can be hard to find time to go to hospital appointments. You might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

But help is available. Our free support line **0808 808 00 00** can offer advice, in your language, about your situation. You can speak to nurses, financial guides, welfare rights advisers and work support advisers.

We also offer Macmillan Grants to people with cancer. These are one-off payments that can be used for things like hospital parking, travel costs, childcare or heating bills.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use. We can help with medical questions, give you information about financial support, or be there to listen if you need someone to talk to. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

**Web chat**
You can send us a web chat message saying you would like an interpreter. Tell us, in English, the language you need, and we will arrange for someone to contact you. Click on the 'Chat to us' button, which appears on pages across the website. Or go to **macmillan.org.uk/talktous**

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

We can also arrange translations just for you. Email us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at **macmillan.org.uk/informationcentres** or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at **macmillan.org.uk/supportgroups** or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at **macmillan.org.uk/community** You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read through people's posts.

## Word list

| Word | Meaning |
|---|---|
| Benefits | Money paid to you by the government to help you with costs. |
| Benign | A lump in the body that is not cancer and cannot spread to anywhere else in the body. |
| Cells | The tiny building blocks that make up the organs and tissues of our body. |
| Diagnosed | If you are diagnosed with cancer, it means your doctor has found that you have cancer. |
| Diagnosis | A diagnosis is when your doctor finds out what illness or problem is causing your symptoms. |
| Healthcare team | The team of doctors, nurses and other professionals that will look after you. |
| Key worker | This person is your main point of contact. You should have their contact details. They can answer your questions and tell you who can help with different things. |
| Lymphatic system | A network of tubes and glands throughout the body. It is part of the immune system. The system fights infections and drains fluid out of our tissue and organs. |
| Malignant | A lump in the body that is cancer and can spread around the body. |
| Metastasis | A secondary tumour that has spread from where the cancer first started in the body. |
| Palliative care | Care given to someone with a cancer that cannot be cured. This may include treatment to shrink the cancer or to reduce symptoms and make someone more comfortable. |
| Side effects | Unwanted effects of cancer treatment. For example, hair loss, feeling sick or tiredness. Most side effects go away after treatment finishes. |
| Tumour | A tumour is a group of cells that are growing in an abnormal way. The abnormal cells keep multiplying and form a lump. |

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

| Types of cancer | Coping with cancer |
|---|---|
| • Breast cancer<br>• Large bowel cancer<br>• Lung cancer<br>• Prostate cancer<br><br>**Treatments**<br><br>• Chemotherapy<br>• Radiotherapy<br>• Surgery | • Cancer and coronavirus<br>• Claiming benefits when you have cancer<br>• Eating problems and cancer<br>• End of life<br>• Healthy eating<br>• Help with costs when you have cancer<br>• If you're diagnosed with cancer – A quick guide<br>• Sepsis and cancer<br>• Side effects of cancer treatment<br>• Tiredness (fatigue) and cancer |

To see this information, go to **macmillan.org.uk/translations**

## References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated by a translation company.

The information included is based on the Macmillan booklet **The cancer guide**. We can send you a copy, but the full booklet is only available in English.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by our Chief Medical Editor, Professor Tim Iveson, Consultant Medical Oncologist and Macmillan Chief Medical Editor.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this information.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk**

MAC15916_Pashto

Content reviewed: 2021

Next planned review: 2024

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. So far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2022, registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. A company limited by guarantee, registered in England and Wales company number 2400969. Isle of Man company number 4694F. Registered office: 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ

Trusted Information Creator
Patient Information Forum